آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

داکتر فاروق اعظم ۲۰۱٦/۰۷/۱۹

# ارګ کې د مجاهدینو د بریا د لمانځنې په پار جوړه شوې غونډه کې
# د ډاکټر فاروق اعظم وینا

غويي ۸ مه نېټه،۱۳۹۵

له ویډیو ټایپه رااړونکی: عبدالوافي نایبزی

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

بسم الله الرحمن الرحیم

انا اعطیناک الکوثر. فصل لربک وانحر. ان شانئک هوالآبتر (صدق الله العظیم)

جناب رئیس صاحب دولت، جناب رئیس صاحب اجرائیة، قاضی القضات، د دولت اراکینو، د مجلسینو مشرانو، دلته ناست درنو عزیزانو، مشرانو، خویندو او دوستانو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دلته نن زما د خبرو کولو طریقه څه بیله ده. او هغه دا چې د کوم مشکل سره چې اوس مخ یو څنګه یی حل کړوکله چې موږ د ۸ د ثور خبره کوو، ضرور به د ۷ د ثور یادونه هم کوو. هغه داچې په دی ملک کی د ثور د ۷ په کودتا سره داسی یو حالت راغی چې د هیواد زیات نفوس قربانی سو او د هغو قربانیانو څخه یو زه یم، زما فامیل دی، او ستاسې ډیری دي او د دې مملکت اکثریت دی. هغه وخت زموږ پر خلکو داسې یو حالت راغی، چې زه دلته پر هغه بحث نه کوم، زه یې پر نتیجه چې اوس مونږ څه باید وکړو خپل بحث بنا کوم. زه هغه ظلمونه او تکلیفونه چې څنګه مثلاً زه خپله په دهمزنګ، پلچرخي کې د اعدام په انتظار وم او په لکو نور داسی ما غونډي خلک وو. ټول یې یوې خوا ته پرېږدو، خو هغه د پنځو زرو مړو لست چې څه وخت مخکې هالنډ کې نشر شو، په هغې کې دا نوشته دي، چې پلانی قتل شو، جرم یې دا و چې د افغان ملت غړی و. جرم یې نماز، ملا، فیوډال دغه رقم شیان... تحصیل کرده ی غرب. دا ټول د جرم دلائل مثبته وه، که چا په غرب کې تعلیم کړی وي، چې یو زه د هغوی څخه وم هغه باید مړ شي. په حقیقت کې په ولس کې مخور او قومي مشرانو ته یو ډول چلېنج و، او حالات داسې راغلل چې ددی ملك یو ثلث مهاجرت ته مجبور شو. د دنیا په تاریخ کې عزیزانو دومره مهاجرت نه دی سوی، لکه د افغانستان په تاریخ کی چې وسو. د هند او پاکستان په ویش کی تر موږ ډیر خلک مهاجر سول، خو د نفوس په تناسب یو فیصد هم نه وه. د بنګله دیش په جنګ کی ډیر خلک مهاجر سول، خو د نفوس په تناسب هیڅ زموږ په شان نه وه. د هندو چین په جنګونو کې ډېر خلك مهاجر سول، خو یو ثلث د مملکت په دنیا کې نه دی مهاجر سوی. زموږ دا مهاجر شو. د دې نتیجه څه شی وه؟؟ خپل ملت په لوی لاس د حریصو همسایه ګانو غېږه کې واچول سو. د کمونستانو هغه ټول جرمونه یو طرف ته چې موږ یې ټول یی قرباني یو، خلك د منځه لاړل، بې



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

سرپناه شول. خو دا چې زموږ ملت د حریصو ګاونډیانو لمنې ته واچول سو، دا خیانت د تاریخ نه بخښونکی خیانت دی. (چکچکې).

ښه!! چې ستا د کور دېوالونه یې مات کړل او دروازی ماتې سوی. نو هر څوك، هر سپی و پیشی ستا و کورته راغلل. دا ځکه خو دېوال نه لرئ!! دروازه نسته. هر چا خپل زباله، امبار او کچره په دې ځای، ستا په کور، کې واچول. عابرین چې هم په لاره تېرېدل، هغوی هم راتلل، دلته یې قضای حاجت کاوه. او کرار کرار پر تا داسې حالت راغی، چې تا بیا خپل کور جوړاوه، نو چا نه ورته پرېښودې، او اوس دې هم نه پرېږدی. اوسنی حال د همدغه لوی ظلم نتیجه ده. د دغه ظلم په مقابل کې قوم راپورته سو، دا ملت راپورته سو، د الله اکبر په چېغه یې دا حالت بدل کړ، نظام یې بدل کړ او د هغه تر شا لوی طاقت یې ختم کړ. زه شعارونه نه ورکوم او احساساتي خبرې هم درته نه کوم.. یو لویه تاریخي پرافتخاره حماسه وسوه! هغه نورو خلکو څه تشریح کړل. زه یې دلته نتایج وایم.

زموږ جهاد یو عظیم باب د تاریخ وو، دا یو لوی شهکار وو، دا یو عظیم کار وو چې وسو چې څنګه یو ملت راپورته سو او په تش لاس یې د زمانې یوه لویه شریره امپراتوري ماته کړه. زما ښه یاد دي، زه امریکې ته ولاړم د جهاد په سر کې، او ما برېژینسکی ولیدی چې هغه د جمهور رئیس جیمي کارتر د ملي امنیت مشاور و، او ما کوشش کاوه چې قانع یې کړم، چې امریکا د افغان مجاهدین سره کومك وکړي. برېژنسکي راته وویل: نا، افغانستان ولاړ؛ پاکستان راتینګول په کار دي.  هغه په داسې حال کې چې سوک یې پر میز د میچني په شان په فشار ګرځلاوه وویل روس فیل دی چې پښه پر یو ځای کښېږدي، هرڅه تر پښی لاندې ذره ذره کړي او بیا بل قدم اخلی. خو دا مسلمان ملت ودرېدی او دا ټوله منسوبه یې سرچپه کړه، جهاد کامیابه شو. کله چې مونږ ودرېدو نو ډېرو ښې لاسونه راکړل، طبعاً بیا خو د دوی فایدې وې. مګر جهاد چې کامیاب سو، ولې یو سم حکومت جوړ نه سو؟ یو خو دا و چې کمیونسټانو ستا کور کنډواله کړی، دیوال او دروازی یې ورماتی کړې وې، ګاونډیانو نه پرېښوول چې دا کور بیا جوړ سي. دا ځکه چې د کچرې، زبالې ځای یې ورک کیدی. بیا به یې خر و غویي چېرې درولی؟ ددوی خر او غوایي باید دلته ودرېږي، دا ځکه چې دا کور دېوال نه لري. د دوی چرګان باید چېرته وګرځي؟ همدلته باید وګرځي چې در و دېوال نه لري. په دې ترتیب کور جوړ نه سو، خو د جهاد په رهبرانو کې چې زه یې ملګری وم لازم کفایت نه و. هغه سیاسي بصیرت متاسفانه په موږ کې نه و، چې د نن ورځې د ذلت څخه یې د جهاد رهبران خلاص کړي وای. چې د نن ورځې د ذلت سره دوی نه وای مخامخ سوي. د دوی اختلافاتو طالب راپیدا کی. زما بالکُل په یاد دي، چې دا طالبان همدې د جهاد مشرانو تقویه کړل. چا به فرشتې ورته ویلې. چا به خودجوش اسلامي تحریك ورته وایه او داسې نور خواږه القاب. د کندهار لوی قول اردو چې ۲۲ زره میله توپک، په سوو ټانکونه او یو عالم جنګی الوتکی یې درلودې همدی د جهاد مشرانو طالبانو ته تسلیم کړی. همدې د جهاد رهبرانو د یو بل پر ضد طالبان تقویه کړل. طالب هم د تېر تجربو څخه هېڅ پند وانخیستی، نه یې د کمیونیسټانو څخه پند واخیست او نه یې د مجاهدینو څخه. د اسلامي نظام پر ځای یې ملاشاهي قایمه کړه. او د هغه آیة شریف خلاف کار یې وکی چې: ان الله یأمرواکم أن تؤدوا الأمانات الی اهلها.  ددوی وزیر زراعت ملا، وزیر صحت ملا، وزیر پلان ملا، وزیر معدن ملا، بس ملاشاهي قایمه شوه! نتیجه دا سوه، چې هغه د خطر زنګ چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وهلی و، چې کار نا اهلو ته وسپارل سي. فانتظر الساعة، د قیامت انتظار وباسئ (چکچې). هر دولت چې کار

نااهله ته وسپاري، هغه دي له دننه ځخه وبېربېري، نسبت دښمن ته! هغه په حقيقت کي له دننه ځخه خوړل کېږي، همدغه يې خوري. طالبانو د پيغمبر عليه السلام انذار او اخطار ته توجه ونه کړه چی کار و اهل ته و نه سپاری. که نه، نو د قيامت انتظار وکړی. پر طالب همهغه قيامت راغی .

نوی حکومت راغی. خارجيانو سره په لوی تعداد هغه پخواني مجاهدين راغلل. هغوی بيا هم له تاريخه پند وانخيست. او بيا يې داسي يو حکومت جوړ نه کړای سوی او يا چا ورته پرېښنوول، چي د ملت په درد وخوري، هغه طالبان چي مات سول، انډيوالانو زه تاسي ته سمي خبرې کوم، طالبان مات سول. او عذر يې کاوه، او دغسي يې غوړونه نيولي و، چي موږ مات يو، موږ پرېږدئ خپلو کورونو کي چي ژوند وکړو؛ حکومت کی برخه نه غواړو. خو چا نه پرېښوول. کرزی صاحب، چي اوس به زما خبرې اوري، ماته وويل چي ماته راغلل او ويې ويل چي موږ په حکومت کي چوکی نه غواړو، خو په کورو کي مو پرېږدئ. مگر موږ موقع ورنکړه؛ موږ پرې نښوول. ماته د کندهار واليانو ويلي دي چي طالبان په عذر راغلل چي موږ فرار او پاکستان ته مه احتياجوئ. خو موږ موقع ورنکړه. خالد پښتون، زموږ د کندهار وکيل چی دلته ناست دی، ماته کيسه وکړه چي په کوئټه کی ۱۶ تنه د طالبانو مشران چي نومان يې نه اخلم او ښايي يو شمير يې دلته ناست وي، ماته راغلل او ويويل موږ نه غواړو پاکستان کی ژوند وکړو. موږ د پاکستان سره تجربه لرو، په حکومت کي هم چوکی نه غواړو، خو د خدای په لحاظ خپلو کليو او وطن کي مو آرام پرېږدئ. خالد پښتون وايي چي دغ ۱۶ تنه د طالبانو مشران چی تيار پاکستان ته تښتيدلی او هلته آرام ناست وه، ما کندهار ته راوستل او امريکايانو ته می معرفي کړل، هغوی بوتلل گوانتانامو و بگرام ته او کلونه يې په زندان کی تعذيب او ځنيی يې هلته مړه سول. دی نظام لويه سهوه وکړه. دا د وطن خلک وه، که خلقيان وه هم د وطن وه، که مجاهدين وه او که طالبان. بايد نه وای وژل سوی او نه وای شړل سوي .

بعضو خو حتی د طالب په نوم د پښتون د وژلو او قومي تصفيی پروژه جوړه کړه، چي پښتون بايد ختم شي، پښتون بايد ونيول شي، پښتون وځپل شی. (کرمي چکچکي) ..... دا ځکه چي د دوی په لاس د ناټو سوټی ورغلی و، او د ناټو په سوټي يې پښتون واهه. دا يې سهوه وکړه!! دا غلط کار دی. زه په دې پوهېږم، دوستانو!! دې نظام کي لاسته راوړني سته، دې نظام کي کار سوی دی. خو په دې نظام کي بي عدالتي هم سته!! دا چي يو څوک وايي د سولي په خاطر د ۱۵ کاله لاسته راوړونو ځخه نه تيرېږم، خو دا بی عدالتي هم د تحمل وړ نه ده. پنځلس کاله پر پښتون جنگل تحميل سويدی. پنځلس کاله د پښتون بچی له تعليمه محروم دی. سږکال له دايکندي چی تر پرونه ولسوالي وه ۶۵۰۰ تنه شاگردانو د کانکور ازموينه ورکړه خو له لوی تاريخي کندهار ځخه يوازی ۲۱۰۰ هلکانو امتحان ورکړ. دا وضع او بيعدالتي تر قيامته تحمل کيري نه. (چکچکي). پښتون په دولت کی د خپل نفوس په تناسب ډير کم فرصت لري .

جناب رئيس صاحب، جناب ډاکتر صاحب عبدالله! زما د زړه سر ياست، دا بي عدالتي دوام نه شي پيداکولی !!

راغلو ودې ته چي ځه بايد وسي؟

زه په حيث د يو سپين ږيري، په حيث ستاسی د يو دوست او په حيث ددی چی په دغه سنګر کی درسره ناست يم، زه ستاسي سره خپله تجربه شريکوم. ددی کور دېوالونه مات دي، د دې کور دروازې ماتي دي. همسايه ګان تاسی نور د دروازو او ديوالو جوړولو ته نه پرېږدي. خو دا ملک تر قيامته هم په جنګ کی ژوند نه سي تيرولای. پنځلس کاله خو په جنګ کی تير سول؟ ۵۰ کاله نور جنګ؟ ۱۰۰ کاله جنګ؟ د نورو اجندا به تر کومه مخ ته بيول کيږي؟ جنګ پر موږ تحميل دی. کوچنيان مو پوهېږي، هر څوك پوهېږی، چي څوك د چا تر شا ولاړ دي. څوك څوك دی، دا جنګ څوك پر مخ بيايی، ماته دا په کار هم نه ده چي زه دا خبرې تاسي ته وکړم، موږ ټول سره پوه يو! اوس لار دحل څه شی ده؟

عرض مي دا دی چي موږ اوس د سولې په ارتباط څه وکړو؟ د دولت تاسي مشران ياست، خپل نظامي قواوې به تقويه کوئ! زما خبرې واورئ! دوستانو خبرې واورئ، دا نظامي قوه به قوي کوئ، ځکه چي دا ستاسي او ددې نظام دفاع ده. لکن په دی خبره هم بايد يقين ولری چی دا ملک جنګ تر قيامته نه سي تحمل کولای؛ د جنګ په زور دا نظام نه سی ساتلای. دا نظام يوازې په جنګ ساتل کيږي نه. تاسي به خپل نظامي قوت لرئ، په مذاکراتو کې به په قوت کښېنئ، خو دا به مو په ذهن کې وي چي دا جنګ به حتمي ختموئ، هغه چي پرون يې تاسي ته عذر کاوه، خو موقع مو نه ورکوله، هغه اوس نن قوت دی! زه يې فيصدي نه وايم چي څو فيصده مځکه يې په لاس کی ده. خو يو فيصدي مځکه يې په لاس کي ده. اوس به نور ددوی د تسليمي خبره نه کوی بلکی تاسي به و دوی ته په قدرت کې شراکت ورکوی. دلته داسي کسان په دې قوت کې شريك دي، چي په تقوی کې تر طالبانو ډېر خراب دي. (ګرمي چکچکي). که سوله د قانون اساسي په تعديل راځي. دې ته حاضر شئ! قانون اساسي بېله دې هم تعديل غواړي. که سوله د چوکی په وېش کېږي، ورته حاضر شئ، دا ملك ته سوله راولئ! دا قوم باندې رحم وکړئ! راغلم منحيث د يو سپين ږيري، چي په سوله کي لويه تجربه لرم، دلته خلك ناست دي، چي جنګونه و، ما په سوله کي کار کاوه. زه بين المللی تجربه هم لرم. نورو ملکو ته هم دسولې دپاره تللی يم. د کرزي صاحب سره چي مي د سولي کومي خبرې کړې وي، تاسي ته يې وايم! کرزی صاحب ته مي وويل چي د دې طالبه سره کښېنه! هغه ويل، زه نه کښېنم، طالب د پاکستان ګوډاګی دی. ما ورته وويل، چي دا خبره مه کوه. موږ ټول غټان يو، په هر څه پوهېږو. که ته ووايي زه د طالبه سره نه کښېنم، هغه د پاکستان ګوډاګی دی، زه د پاکستانه سره کښېنم. هغه به تاته بالمثله خبره وکړي چي زه د امريکا سره کښېنم، ستا سره نه کښېنم. (چکچکی). پس تاسي دواړه د خپل مملکت سرنوشت په حقيقت کې د امريکا او پاکستان په لاس کي ورکوئ! ته دی نفی کوی، خپل سرنوشت د پاکستان لاس ته ورکوي، هغه تا نفی کوی، سرنوشت د امريکا لاس ته ورکوي. پس په لوی لاس د افغانستان سرنوشت امريکا او پاکستان ته سپارل کېږي. چي واخلی زموږ سرنوشت تاسي وټاکي! نه، دا کار نه دی پکار!!!! زما عرض تاسي دوه مشرانو ته دا دی، دغو ټولو دوستانو ته دا دی چي تر اوسه مو چي پاکستان ته څه کړي دي، موږ يې تائيدو، تاسي پاکستان ته مراجعه کړي ده، پاکستان مو ټيسټ کړی دی، امتحان کړی دی، لاکن اوس خو هغه تېره شوه، اوس خپل ملت ته مراجعه پکار ده، خپل قوم ته مراجعه پکار ده!(چکچکی). په دې ملك کي موږ سپين ږيرې لرو، مشران لرو، د عزت خلك لرو، علماء لرو، درانه خلك لرو، چي خير غواړي؛ د دې ملت په دغو خلکو اعتماد وکړئ! ددوی منځګړيتوب ته موقع ورکړی. دغه د سولي عالي شوری وساتئ په حيث د ادرس د حکومت، خو په دې ملت

کي خلکو ته موقع ورکړئ چې ستاسی او مسلح مخالفینو ترمنځ منځګړیتوب وکړي. موږ کومك درسره کوو چې منځګړیتوب رامنځته سي. ستاسي او د طالبانو ترمنځ منځګړیتوب وکړي. پاکستان او امریکا دې تر شا وي. دغه امتیاز چې تاسي پاکستان ته ورکوئ، دا طالب ته ورکړی! هغه امتیاز چې طالبان یې امریکا ته ورکوي، تاسي ته دي درکړي. (چکچکي). دا مسله دې حل سي! موږ په دې لار کې مرسته درسره کوو! تاسي کوشش وکړئ، چې خارجیان ځېل تر شا روان کړئ، هسې نه چې تاسي په خارجیانو پسې روان یاست! دا ملت په اعتماد کې واخلئ، همدا کار کېږي. تر اوسه مو هیڅ ګټه نه ده کړې، چې مونږ خپل منافع د خارجي دنیا د هېوادو او همسایه وسره هماهنګ کړو، بلکي دا په کار ده چې د دنیا او همسایه و منافع د خپلو منافعو سره هماهنګي کړو! او دا کار موږ درته کوو، دا کار په دې ملت کېدونکی دی، موږ اصول لرو، موږ د جرګو اصول لرو. موږ پوهېږو، چې څه وکړو او څنګه یې وکړو. دا پاکستان به تاسي ته اړ وي! دا دنیا به تاسي ته اړه وي. دا به بیا ستاسي تر شا ځي. اوس چې تاسي ورته عذر کوئ، هغوی به بیا تاسي ته راځي، خو د خدای په لحاظ په دې ملت اعتماد وکړئ، دې ملت ته په عزت وګورئ، او دا فکر وکړئ، چې دا سوله باید په هر قیمت راشي. د سولې قیمت تر هر بل شی لوړ دی. او په هیڅ عنوان دسولې مخه نیول جایز نه دي. موږ په دې لار کې ستاسي سره مرسته کوو؛ موږ ستاسي ورونه یو، په یو کشتئ کې سپاره یو، الله پاك دې پر تاسي رحم وکړي، الله پاك دې پر دې ملت رحم وکړي.

ډېر تشکر